# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15میزان _سال 1402**




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


آزمون تحریری دو بست اعلان شده مربوط به وزارت امور مهاجرین اخذ شد ---------------------------- 1

بلخ کې ۸ کورنیو سره مرستې وشوې ---------------------------------------------------------------- 1

له پاکستان څخه دوه زره افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------- 2

د کورونو مالکانو ته د پاکستان خبرداری؛ افغان کډوال وباسئ --------------------------------------------- 3

پاکستاني چارواکی وايي تېرو ۳ ورځو کې ۳۰ افغاني کورنۍ د تورخم له لارې هېواد ته ستنې شوې دي ----- 5

کارزار اخراج مهاجران افغانستان از ایران؛ «پروژه امنیتی» یا نگرانی‌های واقعی؟ ------------------------- 8

پاکستان: یوازې افغانان نه بلکې ټول غیر قانوني کډوال ایستل کیږي ---------------------------------------- 9

د پاکستان حکومت: افغان کډوال ټول یو ځای نه باسو، په څو پړاوونو کې یې وباسو -------------------- 11

په تاجکستان کې ځینې افغان کډوال: بې‌برخلیکه وضعیت ستونزو سره مخ کړي یوو --------------------- 13

از کابل تا دوحه؛ سیمرغ در نمایشگاه بین‌المللی موتر به نمایش گذاشته شد ---------------------------- 14

افغان ابدالیان لوبډله پاکستان ته په ماتې ورکولو سره د اسیایي سیالیو کرکټ پایلوبې ته ووته------------ 16

# متن کامل اخبار

## آزمون تحریری  دو بست اعلان شده مربوط به  وزارت  امور مهاجرین اخذ شد

ویب سایت وزارت



**امتحان تحریری دو بست ۵ و۶ (عضو مسلکی احصایه و پلان و مامور اجرایه) مربوط به ادارات امور مهاجرین ولایات بامیان و خوست که قبلاً به اعلان سپرده شده بود، از طرف ریاست منابع بشری وزارت امور مهاجرین اخذ شد.**

**برای بستهای یاد شده ۴۱ نفربه امتحان حاضر شدند و قرار است از میان آنها دو نفر برنده نمرات بلند تر استخدام  شوند.**

## بلخ کې ۸  کورنيو سره  مرستې وشوې

د وزارت وېب پاڼه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په دغه ولایت کې ۸ بېځایه شوو کورنیو سره د تلې په ۱۲ مه د خوراکي توکو دوېش خبر ورکړ.

یادې کورنۍ چې مخکې د بلخ ولایت مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د افغانستان او امریکا د دوستۍ بنسټ په مالي مرسته د یاد ریاست تر څارنې لاندې هرې کورنۍ ته ۱۰ قلمه خوراکي توکي ووېشل شول

## له پاکستان څخه دوه زره افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې د تلې د ۸ مه مې څخه ۱۲ مې نیټې پورې دوه زره  تنه افغان مهاجر له پاکستان څخه هېواد ته راستانه شول.

د قندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو چارو آمر د معلوماتو له مخې ۳۵۰ کورنۍ، چې ۲ زره تنه کېږي له پاکستان څخه هېواد ته راستانه او د اسلام قلعې په سرحدي آمریت کې له ثبت څخه وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان  ته ور وپېژندل شول.

سرچینې زیاتوي، چې یو شمېر راستنېدونکي، چې په بېلابېلو ناروغیو اخته وو د سلامت شبکې له لوري یې وړیا درملنه وشوه.
همدارنګه د ناروې او ډنمارک د کډوالو ادارو له لوري د حقوقي او عامه پوهاوي مشورو سربېره هر کس ته د خوراکي توکو کڅوړه ووېشله.

**د کورونو مالکانو ته د پاکستان خبرداری؛ افغان کډوال وباسئ**

بی بی سی



د عکس سرچینه،GETTY IMAGES

۲ ساعتونه وړاندې

د پاکستان حکومت د کورونو هغو مالکانو ته – چې افغان کډوالو ته يې په کرايه ورکړي، خبرداری ورکړی چې له خپلو کورونو او اپارتمانونو نه افغان کډوال وباسي.

د پاکستان لندمهالي حکومت د پرېکړې لړ کې د اسلام اباد په ګڼو سيمو کې د کورونو مالکانو ته ويل شوي چې افغان کډوالو ته ووايي له دې ځايه ووځي.

په دې لړ کې خپرې شوي اطلاعيې د ځو اپارتمانونو او کورونو پر دروازو لګول شوې دي.

پر خواله رسنيو ددغو اطلاعيو انځورونه هم خپاره شوي. په يوه اطلاعيه کې چې بي بي سي ترلاسه کړې، ويل شوي له هغو کورونو دې سملاسي افغان کډوال وايستل شي چې دې سيمه کې کورونه يا اپارتمانونه په کرايه ورکړل شوي او که داسې ونه کړي ددې جايدادونو له مالکانو سره به قانوني چلن وشي.

قانوني سند لرونکي افغانان هم وباسئ

دې ليکنه کې له social media راخيستل شوي مواد شته. له ښودلو وړاندې يې ستاسې اجازه پکار ده، ځکه ښايي‌کوکيز يا بله تکنالوژي پکې کارول شوې وي. کولی شئ له اجازې مخکې د social media site پاليسي ولولئ. د دې لپاره غوښتنه ومنئ او مخکې لاړ شئ

Accept and continue

د ويډيو تشريح،خبرداری: بي بي سي د بهرنيو وېبپاڼو د منځپانګې مسؤله نه ده

د پوسټ Twitter پای

اسلام اباد کې یوې سرچینې چې نه یې غوښتل نوم او غږ یې خپور شي، د ګنو اطلاعیو د خپرېدو د پخلي ترڅنګ بې بي سي ته وویل، حکومت د استوګنیزو ښارګوټو مسؤلینو ته ویلي، هغه افغانان چې قانوني سندونه هم لري له خپلو کورونو وباسي.

دې سرچینې پخپل ګاونډ کې د داسې یوې مېرمنې یادونه هم وکړه چې له اولادونو سره یې په یوه کور کې اوسېږي، نارینه سرپرست نه لري، د ناروغی قانوني سند هم لري خو ورته ویل شوي چې دا کور باید پرېږدي.

پاکستان کې مېشت افغان کډوال وايي په دې هېواد کې د حکومت وروستی پرېکړې د دوی ژوند ډېر تریخ کړی او تر څنګ یې د دوی پر رواني وضعیت ډېر بد اغېز کړی دی.

له بلې خوا په خیبر پښتونخوا او سیند ایالتونو کې د خایي حکومت له خوا د مرکز او ولسوالیو یا ضلعو په کچه د ناقانونه کډوالو د چارو د تنظیم لپاره ځانګړې کمېټې جوړې شوې دي.

په سیند ایالت کې د پوځ د لوی درستیز جنرال عاصم منیر او ددې ایالت د اعلی وزیر په ګډون غونډه کې د ناقانونه بهرنیانو په اړه د ګامونو ارزونه شوې ده.

د افغان کډوالو پر ضد د پاکستان د دې کړنلارې په پایله کې ګڼ شمېر کورنیو افغانستان ته مخه کړې ده.

د پاکستاني رسنیو د معلوماتو له مخې، یوازې پرون د تورخم له لارې ۳۰ کورنۍ په شپاړسو لاریو کې ستنې شوې چې د ټولو غړو شمېر یې ۳۵۰ تنه و.

## پاکستاني چارواکی وايي تېرو ۳ ورځو کې ۳۰ افغاني کورنۍ د تورخم له لارې هېواد ته ستنې شوې دي

د مشال راډیو وېب پاڼه




د پاکستان حکومت له خوا د بې اسناده کډوالو د نیولو تر بیان وروسته ځینو افغانو کورنیو خپل هېواد ته مخه کړې ده ـ پخوانی انځور

شریک کړئ

د خیبر ضلعې یو چارواکی وایي چې په تېرو درو ورځو کې ۳۰ افغاني کورنۍ د تورخم له لارې هېواد ته ستنې شوې دي.

نوموړي له رسنیو سره د خبرو اجازې نه لرلو له کبله د اکتوبر پر پینځمه د نوم نه ښوولو په شرط مشال راډیو ته وویل چې هغو کورنیو په پاکستان کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لرل او په خپله خوښه افغانستان ته ستنې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان حکومت بې اسناده افغانانو او نورو بهرنیو وګړو ته د نومبر تر لومړۍ نېټې پورې له هېواده د وتلو امر کړی دی.

اسلامي امارت د اسلام اباد دا اقدام غندلی دی. د امارت اسلامی د حکومت د دفاع سرپرست وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد د اکتوبر پر پینځمه په کابل کې یوې غونډې ته په وینا کې وویل چې له پاکستانه د افغانانو د ایستلو پرېکړه "غیر عادلانه" ده.

تر نوموړي مخکې د امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په یو بیان کې له اسلام اباده خپلې پرېکړې ته د بیاکتنې غوښتنه کړې وه.

مجاهد داراز د پاکستان د ځینو چارواکو دا دعوه هم رد کړې چې ګواکې هلته اوسېدونکي افغانان د نامنۍ په پېښو کې ککړ دي.




د ډایرېکټ لینک

پر افغان کډوالو دا فشارونه داسې وخت زیات شوي، چې په پاکستان کې د ناامنیو پېښې هم زیاتې شوې او پاکستاني چارواکي وخت په وخت په هغو پېښو کې افغان وګړي په ککړتیا تورنوي. خو خپلواکه سرچینې هغه تور نه تاییدوي.

د پاکستان د کورنیو چارو سرپرست وزیر سرفراز بګټي د اکتوبر پر درېیمه تور پورې کړ چې په پاکستان کې د روان کال له پیله د ۲۴ ځانمرګو بریدونو له جملې څخه یې په ۱۴ حملو کې افغانانو لاس درلود. نوموړي البته د خپلې ادعا د اثبات لپاره شواهد وړاندې نه کړل.

خو په اسلام اباد کې د افغان کډوالو چارو مشر کمېشنر عباس خان د اکتوبر پر څلورمه له مشال راډیو سره په ځانګړې مرکه کې وویل چې هلته راجستېر افغان کډوال په هېڅ ډول نامنیو کې ککړ نه دي.

په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت د اکتوبر پر درېیمه په بیان کې وویل، په تېرو دوو اوونیو کې د پاکستان په بېلابېلو برخو کې شاوخوا ۱،۰۰۰ افغانان نیول شوي دي، چې ورڅخه یې ۴۸۵ کسانو قانوني اسناد هم لرل.

خو د پاکستان چارواکي وايي چې یوازې هغه افغانان نیسي چې هلته د اوسېدو قانوني اسناد نه لري.

سفارت زیاتوي چې په پاکستان کې لېترلېږه څلور افغانان تر ګرفتارۍ وروسته مړه شوي دي.

په بیان کې دا نه دي راغلي چې د هغو افغانانو د مړینې لامل څه وو خو په تېرو وختونو کې د سیند په زندانونو کې هم ځینې ناروغه افغانان مړه شوي دي.

د بخښنې نړیوال سازمان په پاکستان کې د افغان کډوالو پر وضعیت اندېښنه څرګنده کړې ده

ملا یعقوب مجاهد: له پاکستانه د افغان کډوالو د ایستلو پرېکړه "غیر عادلانه" ده

په پاکستان کې تر هغې وروسته د افغانانو د نیولو لړۍ تېزه شوه چې د سېپتېمبر پر ۱۵مه، د پاکستان لنډمهالي وزیراعظم انوارالحق کاکړ وویل چې په غیر قانوني توګه مېشت افغانان له هېواده باسي.

د بخښنې نړیوال سازمان او ګڼو نورو بشري سازمانونو هم د کډوالو پرضد د پاکستاني حکومت اقدام ناسمه پرېکړه بللې ده.

د اکتوبر پر شپږمه د بلوچستان په چمن ښار کې د پښتون ژغورنې غورځنګ (پي ټي اېم) تر انتظام لاندې احتجاجي لاریون وشو چې ګډونوالو یې په پاکستان کې د افغان کډوالو د نیولو، ځورولو او شړل کېدو پرضد شعارونه ورکړل.




د اکتوبر پر شپږمه د پښتون ژغورني غورځنګ تر انتظام لاندې په چمن کې احتجاجي لاریون وشو

د غورځنګ مشرانو په خپلو ویناوو کې وویل چې په پاکستان کې له افغانانو سره روان چلند د بشري حقونو خلاف دی او د دې لړۍ د ژرترژره بندېدو غوښتنه یې وکړه.

د پي ټي ایم مشرانو وویل که د پاکستان حکومت د افغان کډوالو پر وړاندې خپله اوسنۍ تګلاره بدله نه کړه نو د هغه هېواد په بېلا بېلو ښارونو کې به احتجاجي لاریونونه وکړي.

په پاکستان کې افغان کډوال له ۱۹۸۰ز لسیزې راهیسې مېشت دي. د دې ترڅنګ په مختلفو وختونو کې په افغانستان کې د جنګونو او ناامنیو له امله هم ګڼ خلک هغه هېواد ته کډه شوي دي.

په وروستیو کې ډېری هغه افغانان پاکستان ته ورغلي چې په نورو هېوادونو کې د پناه اخیستو په پار د لنډې مودې لپاره هلته مېشت شوي دي خو د پناه ترلاسه کولو بهیر یې ځنډپدلی دی.

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (یو این ایچ سي ار) په وینا، په پاکستان کې دا وخت شاوخوا ۱۴ لکه راجستیر افغان کډوال مېشت دي او شاوخوا همدومره شمېر کې ناراجستیر افغانان ژوند کوي.

## کارزار اخراج مهاجران افغانستان از ایران؛ «پروژه امنیتی» یا نگرانی‌های واقعی؟

بی بی سی فارسی



طی چند هفته گذشته ده‌ها ویدیوی جدید و قدیمی و حتی جعلی درباره ورود یا حضور مهاجران افغان در ایران در شبکه‌های اجتماعی ایرانیان بسیار دست به دست می‌شود.

آنطور که گروه شبکه‌های اجتماعی بی‌بی‌سی رصد کرده است؛ دو گروه بیش و پیش از سایر کاربران این موضوع را «داغ» کرده‌اند؛ گروهی از هواداران و چهره‌های دولت رئیسی که تلاش می‌کنند بخشی از نقصان‌ها و ناکارآمدی‌ها را به حضور مهاجران افغان در ایران نسبت دهند و گروهی از مخالفان حکومت که با عنوان «ایران‌گرایی» و با تکیه بر احساسات ملی‌گرایانه درباره آنچه «تغییر بافت جمعیت» می دانند درباره تئوری «چراغ سبز جمهوری اسلامی برای فرزندآوری و سربازپروری با مهاجران افغان» هشدار می‌دهند.

وضعیت مهاجران افغان در ایران این روزها تبدیل به بحثی داغ و پر دامنه شده و حتی به کمیسیون امنیت ملی و سیاست خارجی مجلس نیز کشیده است. در کنار این رسانه‌های داخل ایران نیز به صورت گسترده به موضوع مهاجران افغان پرداخته‌اند و در این مورد هشدار داده‌اند.

این درحالیست که صدها هزار شهروند افغانستان پس از به قدرت رسیدن امارت اسلامی افغانستان به ایران پناه برده‌اند که در میان آنها شمار زیادی از سربازان ارتش و کارکنان دولت پیشین نیز هستند.

## پاکستان: پوازي افغانان نه بلکې ټول غیر قانوني کډوال ایستل کېږي

د امریکا غږ



پاکستاني چارواکي وايي دا تاز ه پريکړه په هغو څه باندې ۱.۴ مليون افغان کډوالو نه تطبيقږي چې پدې هيواد کې د اوسيدو قانوني اسناد لري.

پاکستاني چارواکي وايي هغه پريکړه يې چې له مخې يې بايد پدې هيواد کې څه باندې يو مليون افغانانو په ګډون چې پدې هيواد کې په غير قانوني توګه ژوند کوي او بايد د بلې مياشتې تر لومړۍ نيټې ووځي، يوازې د افغانانو لپاره نه بلکې د ټولو غير قانوني کډوالو لپاره ده.

په افغانستان کې دامارت اسلامي حکومت د پاکستان دا پريکړه "غير انساني" بللې او د بشري حقونو نړيوالو ډلو هم د پاکستاني چارواکو څخه غوښتي چې پدې پريکړې بيا غور وکړي.

خو د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت وياندې ممتاز زهرا بلوچ جمعه اکتوبر ۶ (تلې۱۴) په خبري کنفرانس کې د دې انتقادونو په ځواب کې وويل چې دا پريکړه د هيواد "کورنيو خپلواکو قوانينو سره سمه" ده او زياته يې کړه چې حکومت يې عملي کيدو ته ژمن دی.

ميرمن بلوچ وويل چې دا پريکړه يوازې د افغانانو پر ضد نه بلکې د ټولو هغو بهرنيو اتباعو په هکله ده چې پدې هيواد کې د پاتې کيدو لپاره يې د ويزو موده پای ته رسيدلې او اعتباري اسناد ونلري.

هغې زياته کړه، " دا پاليسي په ټولو افرادو او مليتونو تطبيقږي او پدې برخې کې هيڅ تبعيض نشته."

د پاکستان دې پريکړې له مخې به هغه څه باندې ۱.۷ مليون افغان کډوال د پاکستان څخه وايستل شي چې پدې هيواد کې د پاتې کيدو لپاره قانوني اسناد نلري خو د پاکستان د بهرنيو چارو د وزارت وياندې وويل چې دا پاليسي په ۱.۴ مليون افغان کډوالو نه تطبيقږي چې قانوني اسناد ورسره شته او د کالونو راپديخوا پدې هيواد کې پراته دي.

ميرمن بلوچ پدې هکله وويل، " د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ دوي ثبت کړي او هغوي اسناد لرونکي افراد بلل کيږي."

سره لدې چې د پاکستان حکومت ټولو افغانانو ته چې پدې هیواد کې په غیر قانوني توګه ژوند کوي، د روان ۲۰۲۳ میلادي کال د نومبر میاشتې تر لومړۍ نیټې مهلت ورکړی چې بیرته افغانستان ته ستانه شي، خو میرمن بلوچ او ځینو خپلواکو سرچینو امریکا غږ ته تائید کړې چې یو شمیر کسانو پخپله خوښه افغانستان ته روان شوي.

د دوي ځخه شاوخوا ۲ سوه زره یې متحده ایالاتو یا نورو اروپايي هیوادونو ته تللي خو چارواکي د ۵ سوو زرو په شاوخوا چې پاکستان ته په غیر قانوني توګه تللي او یا یې هلته د پاتې کیدو لپاره د ویزو مودې پای ته رسیدلي، د شړل کیدو د خطر سره مخ دي.

په پاکستان کې د غیر قانوني کډوالو پر ضد دا کمپاین پداسي حال کې پیل کیږي چې پدې تیرو څو میاشتو کې په پاکستان کې ترهګریز بریدونه ډیر شوي.

سره لدې چې پاکستاني چارواکي ادعا کوي دا بریدونه هغه وسله والي ډلې کوي چې په افغانستان کې د پټیدو لپاره خوندي ځایونه لري، خو امارت اسلامي بیا دا ادعاوې ردوي او وايي هیچا ته په اجازه ورنکړې چې د افغانستان د خاورې ځخه د بل چا پر ضد کار واخلي.

## د پاکستان حکومت: افغان کډوال ټول یو ځای نه باسو، په څو پړاوونو کې یې وباسو

د آزادي راډیو

د پاکستان د بهرنیو چارو د وزارت ویانده وايي، افغان کډوال به په څو مرحلو کې له خپلې خاورې وباسي.

زهرا بلوچ دا خبره په اسلام اباد کې رسنیو ته وکړه، خو دا یې ونه ویل چې د نومبر تر لومړۍ نېټې وروسته به هم یو شمېر هغه افغانان باسي چې د پاکستان د استوګنې قانوني اسناد نه لري.

د پاکستان د دې ضرب الاجل لپاره درې اونۍ پاتې دي.

پر افغان کډوالو د پاکستان دننه په ځانګړي ډول په اسلام اباد کې د فشارونو له زیاتیدو سره د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وايي چې د کډوالو د ایستلو پروګرام به د څو پړاوونو په ترڅ کې ترسره شي.

د دې وزارت ویاندې ممتاز زهرا بلوچ پرون خبریالانو ته وویل، ځینو داسې انګېرلې چې دا کډوال به یوځای باسو، خو داسې نه ده.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند، ممتاز زهرا بلوچ

هغه زیاتوي: لومړی به ښايي هغه کسان وایستل شي چې د جرم سابقه لري، لکه: په قاچاقو کې لاس لرل او د هر افغان کډوال قضیه به بیله ارزول کیږي.

بل لور ته د بشري حقونو د ځار ډلې ویلي دي، چې نړیوال بشری بنسټونه باید له پاکستانه په زوره د افغان کډوالو د ایستلو مخه ونیسي.

د دې بنسټ د اسیا د برخې مرستیالې پټریشا ګاسمن تېره شپه ازادي راډیو ته وویل، چې دا سازمانونه د کډوالو په برخه کې ستر مسوولیت لري.

نوموړې وايي:

"د پاکستان پریکړه چې تر یو میلیون ډېر بې اسنادوه افغان کډوال له خپلې خاورې باسي، د ډېرې اندیښنې وړ ده. پاکستاني چارواکي او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتو عالي کمشنري باید د کډوالو د ثبت چارې ګړندۍ کړي او هره قضیه بیله او په شفاف ډول د نړیوالو معیارونو له مخې وارزوي".

تر دې مخکې د بخښنې نړیوال سازمان ورته غوښتنه کړې وه او ویلي یې وو، چې پاکستان باید په خپله خاوره کې د لکونو افغانانو د برخلیک په اړه خپله پریکړه بدله کړي.

په پلازمېنه اسلام اباد کې د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د کورونو څښتنانو ته امر کړی دی، چې افغان کډوالو ته دې خپل کورونه په کرایه نه ورکوي.




پاکستاني پولیسو په وروستیو کې سلګونه افغان کډوال بندیان کړي - تصویر له ارشیفه

په اسلام اباد کې مېشتې افغان کډوالې مینا رحماني تیره شپه د وټس اپ له لارې ازادي راډیو ته په خپل پیغام کې وویل چې لاره ترې ورکه ده.

نوموړې وایي:

"زموږ د ویزې وخت خلاص شوی دی، د ویزې تمدید ګران دی. اوس که کور هم پرېږدو، چیرته ولاړ شو؟ کوم ور ووهو، څوک مو غږ اوري؟ هیڅوک نه شته چې زموږ افغانانو غږ واوري یا موږ افغانانو ته ځواب راکړي"

د پاکستان حکومت د اکتوبر په دریمه اعلان وکړ، چې هغو بهرنیو ته چې په پاکستان کې ژوند کوي او د استوګنې قانوني اسناد نه لري د نومبر تر لومړۍ نیټې وخت ورکوي چې یا له پاکستانه ولاړ شي یا به قانوني چلند ورسره کیږي او په زوره به ایستل کیږي.

په کابل کې د امارات اسلامي چارواکو د اسلام اباد پریکړه په سختو ټکیو غندلې ده.

د افغانستان اسلامي امارت د دفاع وزارت سرپرست محمد یعقوب مجاهد پرون په کابل کې یوې غونډې ته وویل:



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

"پاکستان چې کومه پریکړه د افغانانو په اړه او د افغان کډوالو په اړه کړې ده، چې دوی به د نومبر تر لومړۍ نیټې له پاکستانه وځي، دا پریکړه موږ غندو دا غیرعادلانه او بې انصافه پریکړه ده".

## په تاجکستان کې ځیني افغان کډوال: بې‌برخلیکه وضعیت ستونزو سره مخ کړي یوو

آزادي راډیو




د تاجکستان په کولاب کې د افغان کډوالو یو کمپ

په تاجکستان کې له افغانستانه کډه شوي افغانان وايي، لا هم په بې برخلیک وضعیت کې دي.

که څه هم په تاجکستان کې خپل ځايي وګړي له بې‌وزلۍ کړېږي، خو هلته د سلګونو افغان پناه غوښتونکو ورتګ، د دوی ستونزې لا پسې زیاتې کړې دي.

د فرانسې خبري اژانس راپور ورکړی چې په تاجکستان کې د خپلو حقونو ترلاسه کول اسان کار نه دي، ځکه په دغه هېواد کې د بیان ازادي محدوده ده.

په تاجکستان کې افغان پناه غوښتونکي د افغانستان پر سفارت هم، چې د تېر جمهوري نظام ډیپلومات یې چلوي، ډېره تکیه نه شي کولای.

د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې ځینو افغانانو په خپلو لږو امکاناتو ځان ته د کار و بار غم خوړلی دی.

چا ځان ته رستورانټ او چا هم کوچنی دکان جوړ کړی چې په مرسته یې خپل روزګار وچلوي.

د افغانانو ګڼې کورنۍ دېته په تمه دي چې ملګري ملتونه یا نورې اداري دوی نورو هېوادونو ته وباسي.

جاوېد شریف هم له خپلې کورنۍ سره په همدې تمه دی.

هغه زیاته کړه: "موږ انتظار پاتې شولو، ځکه اوازې وې چې ملګري ملتونه موږ نورو هېوادونو ته باسي، یا پیسې ورکوي. ټول دلته کډوال دي او بېچاره ګان په بد وضعیت کې دي".

جاوېد شریف پنځه اولادونه لري او د تمکین شریف په نوم لور یې له انځورګرۍ سره لېوالتیا لري چې غواړي په انځورګرۍ کې لوړې زده کړې وکړي، خو معلومه نه ده چې تقدیر به دوی کومې خوا ته بیایي.

په دې ځای کې د افغان کډوالو ماشومان خپل د فوټبال تمرین کوي او د هغوی روزونکی مرتضی نبي زاده وایي، د دوی د تمرین یو کال کېږي.

هغه وایي: "د دوی پر تمرین یو کار اوړي. ځکه په افغانستان کې د نجونو او هلکانو ترمنځ توپیري چلند کېږي. هلته نجونې درس نه شي ویلی، ورزش نه شي کولی، پارک ته نه شي تلی، موږ وغوښتل چې د دوی ترمنځ دغه کرښه ماته کړو او نجونو ته یو ښه ټیم جوړ کړو".

بله افغانه پناه غوښتونکې، سارا حکیمي وایي، دوی په تېرو دوو کلونو کې ډېرې خوارۍ ګاللي دي.

هغه وایي: "کله چې په ۲۰۲۱م کال کې کډوال شولو، هغه وخت مو پیسې نه درلودې، ماشومان مو وږي وو. روزګار مو کمزورۍ و. ځینو تاجکستاني ګاونډیانو مو لاسنیوی وکړ. خیر دې یوسي. توشکې، بړستنې او هرڅه یې راکړل. د یوې اوونۍ له تېرې وروسته مې کار پیل کړ. په لومړیو کې مې کورونه پاکول. چې د ورځې به یې شل سامانې 'شاوخوا ۱ اعشاریه ۸۰' ډالره راکول، چې په دغو پیسو خوشحاله وو".

د دوشنبې په وحدت سیمه کې د کورنیو چارو وزارت د کډوالو ریاست مشر سمونمل بای محمد رجازاده ویلي، هلته ډېره افغان کډوال تقریباً له ټولو حقونو برخمن دي.

هغه وایي: "دا باید وویل شي، چې په تاجکستان کې افغان پناه غوښتونکي له ځینو حقوقو پرته، د تاجکستان د وګړو برابر حقونه لري. دوی ازاد دي چې ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو یا حقوقي موسسو ته مراجعه وکړي او د تاجکستان په ټولنه کې ازادانه ژوند وکړي".

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو لوېی کمېشنرۍ ویلي، دا مهال په افغانستان کې د افغان پناه غوښتونکو شمېر شا و خوا لسو زرو ته رسېږي، زیات یې له بېوزلۍ کړېږي.

د تاجکستان تر څنګ ګڼ افغانان په ګاونډیو یا هم نورو هېوادونو کې د امریکا متحدو ایالتونو، کاناډا یا هم اروپایي هېوادونو ته د تګ په تمه دي.

## از کابل تا دوحه؛ سیمرغ در نمایشگاه بین‌المللی موتر به نمایش گذاشته شد

طلوع نیوز

محمد نعیم، سرپرست سفارت افغانستان در قطر که در مراسم گشایش این نمایشگاه حضور داشت،  از موتر ساخت افغانستان دیدن کرده است.




**سیمرغ؛ اولین موتر ساخت افغانستان در نمایشگاه بین‌المللی موتر ژنو ۲۰۲۳ در دوحه، پایتخت قطر به نمایش گذاشته شده است.**

**تازه‌ترین طرح‌ها و فناوری در صنعت موترسازی در این نمایشگاه به نمایش درآمده است.**

**محمد رضا احمدی، مدیرعامل شرکت انتاپ گفته است که پس از تلاش‌های زیاد موفق به انتقال موتر ساخت افغانستان و شرکت در نمایشگاه بین‌المللی قطر شده است.**

**محمد رضا احمدی گفته است: «پرنده‌ی افسانه‌ای که جواب تمامی سوال‌ها را دارد؛ ولی برای پیدا کردنش باید کوه قاف بروید، هزاران پرنده حرکت می‌کنند و بعد از گذشتن از هفت مرحله هنوز سیمرغ به کوه قاف می‌رسد و چیزی که پیدا می‌کنند سیمرغ نیست، آینه حقیقت است«.**

**شرکت‌های مشهور موترسازی جهان در این نمایشگاه شرکت کرده‌اند و تازه‌ترین طرح‌های شان را به نمایش گذاشته‌اند.**

**محمد نعیم، سرپرست سفارت افغانستان در قطر که در مراسم گشایش این نمایشگاه حضور داشت، از موتر ساخت افغانستان دیدن کرده است.**

**شاکر یعقوبی، آگاه مسایل اقتصادی به طلوع‌نیوز گفت: «صنعت موترسازی در افغانستان یک اقدام بی پیشینه است که میتانه در حالی حاضر به اقتصاد افغانستان یک نقطه مثبت تلقی شود با توجه به ای وضعیت می‌تواند در ترویج فرهنگ موتر سازی و تقویت اقتصاد افغانستان و ایجاد شغل مهم و اثر گذار باشد«.**

**برخی آگاهان اقتصادی به این باورند که با ابتکار صنعت موترسازی، افغانستان یک گام دیگر در رشد اقتصاد و فراهم‌سازی اشتغال برداشته است.**

شبیر بشیری، آگاه مسایل اقتصادی چنین گفت: «تولید یک موتر توسط یک فرد میشه که یک جرقه ای باشد به خاطر شروع یا سرمایه گذاری بالای تولید صنایع موتر و صنعت عظیم و بزرگی است تولید صنعت موتر».

عبدالنصیر رشتیا، آگاه دیگر گفت: «تولید می‌تواند دو بحث را در قبال داشته باشد بحث اول ای است که می‌توان گفت هویت یک کشور را در دنیا به نمایش بگذاره اما در بحث اقتصادی از او میتانه اشتغال‌زا باشد».

نمایشگاه بین‌المللی موتر ژنو ۲۰۲۳ روز پنج‌شنبه (۵ اکتوبر) گشایش یافت و قرار است تا ده روز ادامه یابد.

## افغان ابدالیان لوبډله پاکستان ته په ماتي ورکولو سره د اسیایي سیالیو کرکټ پایلوبې ته ووته

مشال راډیو وېب پاڼه




د افغانستان الف لوبډلې د اکتوبر پرشپږمه پاکستان الف لوبډلې ته په څلورو وکټونو ماتې ته ورکړه.

د افغان ابدالیانو لوبډلې د چین په اسیایي لوبو کې د پاکستان الف لوبډلې ته د څلورو ویکټونو ماتې ورکړه او پایلوبې ته ووتله.

د ۲۰ اووره کرکټ دا نیمه پایلوبه د اکتوبر پر شپږمه په چین کې وشوه چې پاکستان په لومړي بېټینګ کولو سره په ۱۸ اوورونو کې ۱۱۵ منډې وکړې او ټول لوبغاړي یې وسوځېدل.

په ځواب کې د افغانستان الف لوبډلې (افغان ابدالیانو) په ۱۸م اوور کې د شپږو لوبغاړو په ورکولو سره هدف پوره کړ او لوبه یې وګټله.

په چین کې د روانو اسیایي لوبو لړ کې د کرکټ پایلوبه د اکتوبر پر اوومه د افغانستان او هند الف لوبډلو ترمنځ کیږي.

د پایلوبې ګټونکي لوبډلې ته به د سرو زرو او بایلونکي لوبډلې ته به د سپینو زرو مډالونه ورکول کیږي.

په همدغه ورځ به د پاکستان او بنګلادېش الف لوبډلې د درېیم مقام لپاره له یو بل سره سیالي کوي.